مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهانی

۲۰۲۳/۰۱/۲۱

# رباعیات

کله دي مـرګ وي اور د ګـرميـو
کله له واورو او له يخنيو
خو لا دي سره دي لاسونه دواړه
د ورور په وينو او له بديو

******

اسمان نيولي سترګي دي برندي
لا درته ګوري ژوري کندي
له لېوه خلاص سي قصاب دي بيايی
چي دروازې وي د علم بندي

******

پر اصفهان دي د تورو شرنګ وو
فرنګ په خپلو وينو کي رنګ وو
تاريخ دي ماته افسانې ښکاري
تا له ازله وهلی لنګ وو

******

چي خدای درکړی د توري زور دی
پر هر ميدان دي بری په شور دی
ړوند يې د فکر پر سمو لارو
افغان اولسه ژوند دي پيغور دی

******

چيري چي زور وي د جاهلانو
تل به غلام وي د ګاونډيانو
مهار د اوښ به په خره پسي وي
لار به وي ورکه له کاروانيانو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ